سلطان جان کلیوال ۲۰۱۹/۰۱/۲۴

# د جرم او ګناه توپیرونه:

جرم او ګناه دوه سره ورته مفاهیم دی چی ډیر کرت یی په پیژندنه کی تیر وتنه شی او یو د بل په ځای پیژندل کیږی. په دی برخه کی هم د دینی عالمانو او استادانو له خوا اوهم د مدنی او ټولنیزو علومو دپوهانو له خوا څیړنی او لیکنی شویدی او تر یوه حده یی دا دوه مفاهیم چی دواړه دیوه عمل په توګه د پیژندنی وړ دی، سره بیل او مونږ ته را پیژندلی دی.

لکه د نورو په څیر ما هم و غوښتل چی د دی دوه مفاهیمو په توپیر باندی ځان تر یوی اندازی و پوهوم، نو له همدی کبله می په دی هکله د بیلو بیلو پوهانو نظرونه و لوستل او ډیر نوی شیان مخی ته راغلل. ماته داسی څر ګنده شوه چی د ټولو پوهانو نظرونه د هغوی د خپل استدلال له مخی د خاص ارزښت لرونکی دی، خو د یوه اسلامی انستیتوت د یوه شاګرد نظریات او د لایل می، چی خپل استاد ته یی د کورنی وظیفی د سرته رسولوپه توګه په دی برخه کی وړاندی کړی وو، خوښ شول. هغه دا دوه مفاهیم (جرم او ګناه) داسی یو د بل نه سره بیل کړیدی:

- ۱- جرم یو داسی عمل دی چی د مدنی قوانینو په مخالفت کی سرته رسیږی. یعنی مدنی قوانینو د داسی اعمالو سرته رسول منع کړی وی. خو ګناه د ابراهیمی ادیانو د اساساتو له مخی یو هسی مفهوم دی چی د الله ج د حکم نه سر غړونه او تیری پکی شوی وی. یا په بل عبارت جرم هغه عمل دی چی د نورو انسانانو په حق باندی پکی تیریٔ او تجاوز تر سره شوی وی لکه د یو چا وژل، د چا مال غلا کول یا یی غصبول، دوکه او تقلب، شوکه او لوټماري او په لسګونو داسی نور عملونه. خو ګناه هسی یو عمل دی چی هغه د خدای ج د احکامو نه سر غړونه وی خو د نورو په حقوقو باندی پکی تیری نه وی شوی لکه د شرابو څښل، په خوبنه او بی له زور زیاتی ښځه زنا کول، قمار وهل، روژه خوړل او د الهی احکامو نه پرځای کول لکه په عباداتو کی سستی او لټی.

په لنډه توګه داسی ویلای شو چی هر جرم په خپل ذات کی ګناه ده، خو هره ګناه جرم نه دی. مثلاً د یوچا

وژل هم جرم دی هم گناه ده، خو د روژی خوړل گناه ده مگر جرم نه دی، یا غلا کول هم جرم دی هم گناه ده خو ذکات نه ورکول گناه ده خو جرم نه دی.

- ۲- جرم هغه عمل دی چی پیژندنه یی د د انسانی ټولنود وضعی قوانینو او حکمونو په ذریعه کیږی. خود گناه د پیژندني صلاحیت یواځی د الله ج سره دی او انسان ته یی پیژندنه د الهی احکامو له مخی ممکنه ده.
- ۳- مجرم ته په دی دنیا کی د قوانینو له مخی جزا ورکوله کیږی.خو گناهکار د گناه جزا په بله دنیا یا پس له مرگه ورکوله کیږی.
- ٤- جرم هسی یو عمل دی چی په هره انسانی ټولنه کی د هماغی ټولنی د مشخصو کودونو له مخی روښانتیا مومی. که د دی منل شوو کودونو نه تیری وشی نو په عامل باندی یی ټاکل شوی جریمه وضع او تطبیقیږی. خوگناه یو ذهنی مفهوم دی او څه داسی پارامترونه او مشخصه اندازه نه لری چی په سمه توگه و پیژندل شی چی څه شی دی؟ گناهونه یواځی د مذهبی او معتقدو خلکو د پاره د پیژندنی او پوهیدنی وړ دی او بی عقیدی خلکو ته یو نا سم او نا معقول مفهوم بریښی.
- ٥- په عامه توگه تر اوسه پوری دادوه مفاهیم داسی پیژندل شویدی چی هر جرم گناه ده، خو هره گناه جرم نه دی.
- ٦- جرم او د هغه اندازه د جنائی ـ وضعی قوانینو له مخی تثبیت کیږی، او گناه د مذهبی او عقیدتی اصولو له مخی په اثبات رسیږی. د مثال په توگه: د هغو کسانو( ډلی، ټولنی، دولت) د پاره چی په مذهبی اصولو کی ژوند نه کوی د ټولیزو گټو په ضد عملونه گناه نه ده، خو د دواړو یعنی هم مذهبی او هم د غیر مذهبی ټولنو د پاره دا ډول اعمال جرم بلل کیږی.
- ۷- جرم یو قانونی او حقوقی مفهوم دی، اما گناه یو اخلاقی مفهوم دی. جرم د مدنی قوانینو په ذریعه تشخیص کیږی او گناه د الهی احکامو په ذریعه. نو ځکه په ډیرو بشری ټولنو کی لوی گناهونه هم جرم نه شمیرل کیږی.
- ۸- په عمومی توگه ټول هغه جرائیم چی ټولنیز عدالت ته زیان رسوی گناه ده، که یوه جرم ته د بل هیڅ د لیل له مخی گناه و نه ویله شی، خو داچی ټولنیز نظم او عدالت ته زیان رسوی نو گناه بلله کیږی. په هغو هیوادونو کی چی د اسلام د مبارک دین له مخی پکی ټولنیز ژوند پر مخ ځی، هلته د جرمونو او گناهونو د پیژندنی د پاره مستقلی قضایی اداری وجود لری چی په دی برخه کی پریکړی او فیصلی کوی. د دی حالت یو ښه مثال دادی چی که په خپله ځمکه (ملکیت) د کومی ودانی د جوړښت اجازه د مربوطه ښاروالی نه تر د لاسه نکړی اوودانی پکی جوړه کړی دا عمل په هیڅ وجه کومه گناه نه ده، خو داچی د مقرراتو له مخی د هری نوی ودانی د جوړیدو د پاره باید د مربوطه ښاروالی نه اجازه تر د لاسه شی، نو په خپل سر په خپل ملکیت کی د ودانی جوړول هم جرم دی او جریمه لری.

یوه بله د یادولو خبره داده چی جرم په هیڅ وجه نه بخښل کیږی، مجرم باید دخپل جرم په اندازه جزا و وینی. خو گناه چی عامل ته جزا ورکول یی د الله ج په واک دی، نو د توبی او په عمل باندی د رېښتینی پښیمانی په صورت کی ممکن و بخښل شی.

ډیره ضروری دی چی د ټولنیز نظم د سالم ساتلو،بقا اوبرابرتیا د پاره د دی دوه سره ډیرو نژدی مفاهیمو په منځ کی توپیر پیژندنی ته په کمه سترګه و نه کتل شی او دواړه لکه ښنګه چی ورته اړتیا ده په هماغه توګه تشخیص او په ورځنی ژوندانه کی تاثیرات درک او و پیژندل شی. پای

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!

د جرم او ګناه توپیرونه:
kliwal_s_de_jorm_ao_gonaah_taopiroona.pdf